دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهی فرمان

او هر څوک چې ونیسي شیطان دوست بې له الله نو په تحقیق ښکاره زیان یې وکړ. وعده کوي (شیطان) له دوی سره او په باطلو امیدونو کې یې غورځوي. او نه کوي وعده له دوی سره شیطان مګر په فریب، ځای ددوی جهنم دی او نه به مومي دوی (شیطان تابعان) له دې دوزخه د تېښتې هېڅ ځای. (سورة النساء: ۱۱۹ - ۱۲۱)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:
دوه وږي لیوان د وزو یوې رمې ته دومره نقصان نشي رسولې څومره چې د مال حرص او حسد د مسلمان دین ته نقصان رسوي، حسد د مسلمان نیکی داسې له منځه وړي لکه چې اور لرګې له منځه وړي. (ترغیب)

شهادت دویم کال، ۷۷ مه ګڼه، چهار شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د تله ۱۴ مه د۱۴۳۱ هـ ق د شوال المکرم ۲۷ مه د ۲۰۱۰ م د اکتوبر ۶ مه

تحلیلگر امریکایی:

نظامیان امریکا تنها برای تفریح، نظامیان افغانی را می کشند

PROPERTY OF ACKU

خبر گزاري فارس:
یک تحلیلگر امریکایی در مقاله‌اي که در پایگاه خبري "ربل‌نیوز " منتشر شد به موضوع کشتار سربازان افغان توسط سربازان امریکایي و نارویژی پرداخته و مي‌نویسد: این سربازان این نوع کشتار را نوعي تفریح برای خود مي‌داند.
پایگاه خبري "ربل نیوز " (Rebelnews) در مقاله‌اي به قلم "کریستوفر بولین "(Christopher Bollyn) روزنامه‌نگار و تحلیلگر امریکایی به بررسی گزارشات اخیر رسانه‌های مختلف در مورد کشتار سربازان افغانی توسط سربازان امریکایی و نروژی برای کسب هیجان پرداخته و می نویسد: نظامیان نارویژی از کشتن نظامیان مقاومت کننده افغان که علیه نیروی‌های اشغالگر خارجی در افغانستان مبارزه می کنند، لذت می برند. این خبري است که مردم ناروی و اسکاندیناوي را شوکه کرده است. نشریه نارویژی "آلفا " در شماره اخیر خود با تعدادي از تک تیرانداز های نارویژی مستقر در افغانستان مصاحبه نموده است. این نظامیان با افتخار، از هدف قرار دادن افغان‌ها از فاصله ۲۵۰۰ متری سخن می گفتند.
این خبر، مشابه گزارشی است که در شبکه خبري "اي‌بي‌سي نیوز " (ABC News) امریکا پخش شد و در آن فاش گردید که سربازان امریکایی به نام ورزش، غیرنظامی های افغانی را به قتل رسانده و اعضای بدن آن‌ها را از هم جدا می کنند. این گزارش‌ها نشان از اخلاق فاسد حاکم بر جنگ جنایت‌بار افغانستان هستند.

رئیس جمهور حامد کرزی ناتو را به نبود مبارزه واقعی با تروریزم متهم ساخت



ریانووستی:
حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان در جریان ملاقات با جولیا هیلارد صدراعظم استریلیا کشورهای ناتو را متهم ساخت که انها مبارزه واقعی با تروریزم را پیش نمی برند، در این باره دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری افغانستان در روز یکشنبه خبر داد.
کرزی گفت: سربازان خارجی بطور واقعی متوجه هدف مبارزه با مراکز تروریستی نمی باشند، از همینرو اوضاع در عرصه امنیتی در افغانستان ازقناعت بخش بودن فاصله دارد.
رئیس جمهور خاطرنشان ساخت که وضع موجود منفی امنیتی در قدم اول به این امر مربوط میگردد که نیروهای ایتلاف بین المللی نتوانستند کمپ های امادگی تروریستان را در منطقه نابود سازند. ...
کرزی اظهار داشت: " در عین حال جامعه جهانی توجه لازم را به امادگی کادرها برای اردوی ملی و پولیس افغانستان مبذول نمی دارد "، و افزود که توجه جامعه جهانی باید در همین جهات متمرکز باشد، اگر میخواهد بر بهبود اوضاع در کشور دست یابد.
رئیس جمهور در عین حال از استریلیا به خاطر کمک نظامی و ملکی به مردم افغانستان ابراز سپاسگذاری نمود و خاطرنشان ساخت که از برکت این مساعدت در ولایت روزگان، جای

بقیه در صفحه ۴

د انتخاباتو کمیسون له رسنیو وغوښتل چې مخکې تر مخکې قضاوت ونه کړي

تاند ویب پاڼه:
د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمیسیون له رسنیو غوښتي «دي چې د انتخاباتو د پایلو تر اعلان د مخه دې د کاندیدانو په اړه له قضاوت کولو څخه ډډه» وکړي.
د افغانستان د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون د رسنیو کمیسیون د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې ورځنی پایلې په هیڅ ډول ورستی نه دي او یوه ټاکلې فیصدي ښیي.
دغه کمیسیون غوښتي چې رسنی دې هم د انتخابا خپلواک کمیسون په شان یواځې ورځنی پایلې اعلان کړي.
دغه غوښتنه داسې حال کې کیږي چې یو شمیر رسنی په ځانګړي ډول چاپي رسنی د یو شمسیر کاندیدانو او په انتخاباتو کې یې د بریاوو او ناکامیو په اړه تبصرې خپروي.
تراوسه پورې د شمېرل شویو رایو پراساس په کابل کې یونس قانوني تر ټولو وړاندې دی چې وروسته یې محمد محقق، عبدالرب سیاف او

پاتې ٤ مخ

مجوز فعالیت یک شرکت امنیتی امریکایی در افغانستان لغو شد

خبر گزاري فارس:
سخنگوي رئیس جمهور افغانستان از لغو مجوز فعالیت هشت شرکت خصوصي امنیتي از جمله شرکت جنجال برانگیز "XE" (بلک‌واتر سابق) خبر داد.
"وحید عمر " عصر امروز در یک کنفرانس مطبوعاتي از لغو مجوز فعالیت هشت شرکت خصوصي امنیتي در این کشور خبر داد که این ممنوعیت شامل بزرگترین شرکت‌هاي امنیتي امریکا نیز شده است.
شرکت خصوصي امنیتي بلک واتر از بزرگترین شرکت‌هاي خصوصي امنیتي امریکا در افغانستان بود که اخیرا به "XE" تعییر نام داده بود.
عمر از موفقیت آمیز بودن روند انحلال شرکت‌های امنیتی خبر داد و گفت: تا کنون این روند با موفقیت پیش رفته و هشت شرکت خصوصی لغو فعالیت شده‌اند.
در پی بروز ناامنی‌های متعدد بخصوص در بزرگراه‌های افغانستان، رئیس جمهور این کشور شرکت‌های امنیتی خصوصی را عامل

بقیه در صفحه ۴

طالبانو د افغان ملي پوځ په لیکو کې نفوذ کړی دی "کوسټا"

لوی افغانستان :
د نشه یي توکو او جرمونو پرضد د اداري پخواني مشر انتونیو ماریه کوسټا بي بي سي ته وویل د طالبانو کسان له وړاندې هم د امنیتي ځواکونو په منځ کې وو او وار د مخه یې هم یو شمېر بریدونه کړي دي.
له دندې اوس-اوس لیرې شوي د ملګرو ملتونو یوه چارواکي خبرداری ورکړی چې طالبانو د افغان پوځ او پولیسو په لیکو کې نفوذ کړی او پلان لري چې پر ناټو ځواکونو نور بریدونه وکړي.
ډاکټر کوسټا چې د تېر ۲۰۰۹ کال تر اګست میاشتې پورې د نشه یي توکو او جرمونو پرضد د اداري مشر و، ویلي همدا اوس هم دښمن د پولیسو په لیکو کې شته:
نوموړی وایي "موږ ګڼ داسې دلایل لرو چې په پوځ کې د ورننوتو کسانو لخوا خیني ځانمرګي بریدونه شوي، څکه چې دوی د پوځ لیکو ته لاره موندلې وه. "
په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو یوه ویاند ویلي چې د افغان پوځ او پولیسو ترمنځ د طالبانو د نفوذ ستونزه کله کله پیښېږي او ډېری افغان ځواکونه مرکزي حکومت ته وفادار دي.
بل خوا د افغانستان د دفاع وزارت د ښاغلي کوسټا خبرې په بشپړ ډول ردوي.

پاتې ٤ مخ

اوباما وايي د افغانستان په ستراتیژۍ کې بدلون نه راولي

تاند ویب پاڼه:
د امریکا ولسمشر بارک اوباما د کانګریس مشرانو ته ویلي چې حاضردمه د افغانستان د جګړې په ستراتیژۍ کې د لوی بدلون پلان نه لري.

ښاغلي اوباما دا خبره په یوه لیک کې کړې چې د دوشنبې په ورځ سپینې ماڼۍ خپور کړ.
اوباما پر خپلې ارادې ټینګار کړی چې د افغانستان د جګړې لپاره په جوړې شوې ستراتیژۍ ولاړ دی او وایي:
"موږ د هغې پالیسی تطبیق ته دوام ورکوو چې په دسمبر کې مو جوړه کړه او په دې باور نه لرو چې دا دې په اوس وخت کې نوربدلون ته اړتیا ولري. "
ولسمشراوباما خپل نظر په یوه لیک کې د سپټمبر په دیرشمه د امریکا د کانګریس د دواړو جرګو مشرانو ته استولی دی.
ده همداراز ویلي: "په داسې حال کې چې

پاتې ٤ مخ

القاعده شبکې زموږ په ځینو ښارونو کې د همغږه بریدو پلان جوړ کړی "اروپا"

آزادی راډیو:
وروسته له دې چې په اروپایي ښارونو کې د القاعده شبکې له لوري د حملو پلانونه کشف او شنډ شول، دا اندېښنه په زیاتېدو شوه چې جعلي پاسپورټونو به ښایي د هغې وسلې حیثیت ولري چې دا شبکه خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره کار ترې اخلي.
لویدیځ چارواکي او څارونکي وایي، د اروپا استخباراتي اداري اوس هڅه کوي د هغو ځوانانو په اړه معلومات ترلاسه کړي چې د امریکا او د اروپایي هېوادونو تابعیت لري خو د القاعده او د هغې د متحدو شبکو په مرکزونو کې د روزنې لپاره پاکستان او نورو هېوادونو ته ځي او بیا د تروریستي حملو لپاره لویدیځ ته ستنېږي.

پاتې ٤ مخ

پس منظر دستاوردهای کنفرانس کابل

صفحه دوم

نړۍ څنګه له اټومي وسلو څخه پاکېدلې شي؟

دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

جنګ د سولې نعم البدل نشي کیدای

احمد شاه «وحدت» Ahmad Shah WAHDAT

په افغانانو کې شته داسې خلک چې له لومړی ورځی نه ددولت له مخالفینو سره د خبرو اترو هلې ځلې په کلکه رده وي، یوه ورځ یې هم چېرته دا نه دي ویلي چې له مخالفینو سره دې د سولې له پاره یوه ملي پروسه پیل او روان اختلاف دې د مذاکراتو پر میز حل و فصل شي، تر اوسه دهغوی یواځینی غوښتنه دا ده چې مخالفین دی یا له څه قید او شرط پرته دولت ته تسلیم شي او یا دې د جنګ له لارې له صحنې نه همیشه له پاره محوه کړی شي.

خو زمکني حقایق مونږ ته دا را په ګوته کوي چې جنګ او سوله دواړه خور او ورور دي، د سولې اړتیا هله مخې ته راځي چې د جنګ اور بل شي، امنیت خراب او د ژوند تیرولو فضا خړه پړه شي، اوسیدونکي له یو عالم کړاوونو او الدیښنو سره مخامخ او د پرمختګ مخه ډب شي.

په افغانستان کې روانه جګړه په ځنګل کې دهغه لګیدلي اور ښه بېلګه کړی ده چې وچ او لانده دواړه سیزي او هر څه خاورې او ایرې کوي.

د افغانستان په جنګ کې یواځې د افغانانو وینې نه بهیږي بلکې د نړۍ تر څلویښتو زیاتو هېوادو پوځیانو وینې هم بهیږي او مال یې هم تباه کیږي. دې جګړې نور د افغان ولس په شمول د امریکا او اروپا، بلکې د ګردې نړۍ د ولسونو زغم او حوصله ځکه ختمه کړې ده چې لمنه یې د تولیدو پر ځای نوره هم په پراخیدو ده. د امریکا او ناټو غړي هېوادو ولسونه نه غواړي چې تر اوږدی مودې پورې په افغانستان کې خپل اولادونه او مالونه وبایلي. خپل اقتصاد ضعیف او د ګدایې په تغر کیني. ځکه خو د هغو هېوادو په ولسونو کې د افغانستان د جګړې په اړه دلچسپي ختمه شوی او پر خپلو چارواکو فشار اچوي چې له افغانستان نه خپل پوځونه راوباسي.

په داسې حال کې چې د امریکا او ناټو غړي هېوادو ولسونه او حکومتونه له مخالفینو سره د سولې او تفاهم د پروسې ملاتړ کوي دهغو افغانانو دنه پخلاینی دریغ ملت ته د حیرانتیا وړ دی چې هر وخت د سولې او خبرو اترو د پروسې مخالفت کوي.

تاریخ ګواه ده چې خپلمنځي جګړو او ناروا اختلافاتو افغان ولس ته له بدبختي فقر، ذلت، ویر او غم پرته بل هیڅ نه دي ور کړي. کوم خلک چې د سولې پرځای پر جګړه اصرار کوي هغوی دې ددې پوښتنې ځواب ورکړي چې د کلونو کلونو جګړو افغان ولس ته له غم، ویر، مرګ او پریشانی پرته بل څه ور کړي دي؟ آیا د جنګ له لارې د مخالفینو شتون ختم شوی دی او که نور هم زیات شوي دي؟ د جنګ او بدامني لمنه غونډه شویده او که لاهم پراخه شوې ده؟

لکه ځنګه چې اور په اور نه مړ کیږي یا وینه په وینه نه وینځل کیږي همداسې جنګ هم د جنګ له لارې نه حل کیږي د جنګ د ختمولو یواځنی.لاره سوله او خبرې اترې دي. د الله تعالی له لوري نازل شوي کتاب قرآن کریم کې پر سوله تاکید شوې او آن تر دې محمد صلی الله علیه وسلم ته ویل شوي یـد چې که چېرته له مسلمانانو سره جنګیدونکي مشرکان سولې ته چمتووالی ښکاره کړي نو تاسې هم ورسره سوله وکړئ.

کله چې له کافرانو سره سوله کیدلې شي نو له مسلمانانو سره سوله ولې او په کوم دلیل نشي کیدلې؟ لوی الله جل جلاله خو مسلمانانو ته په غوڅو ټکو کې فرمایلی دي چې مؤمنان پخپلو منځو کې وروڼه وروڼه دي. کله چې دهغوی ترمنځ جګړه وشي نو دهغوی ترمنځ سوله وکړئ.

الله جل جلاله او دهغه آخري نبي محمد صلی الله علیه وسلم روغې جوړې او سولې ته خیر او جنګ جګړې ته فساد ویلي دي، آیا د سولې او روغې جوړې سره مخالفت د الله تعالی له څرګندو حکمونو څخه په بغاوت نه وي؟ !آیا د سولې چورلټ مخالفت کول او دسولې د هلو ځلو مخ ډب کول به دهغوی ایمان او اسلام تر سوال لاندې رانه ولي؟ !

راځئ د سولې دیني، ملي او ټولنیز ارزښت وپیژنو، له سولې پرته ټول جنګي او منفي فکرونه له خپلو مغزو راوباسو، ځکه چې د انسانیت خیر ښېګڼه، فلاح او سعادت په سوله کې رانغښتل شوې، ټولې خوشالیانې د سولې په فضاء کې ترلاسه کیږي او د ټولو نعمتونو سرچینه سوله ده. راځئ په بشپړ صداقت او اخلاص د سولې لپاره خپلې غیرې پرانیزو، د سولې او سلم ترانې ووایو، یو بل ته د ورورولې او مینې لاسونه ور کړو. دا هر څه زموږ په وس کې دي او الله تعالی موږ ته ددې ټولو د ترسره کولو امر کړیدی. موږ به حرکت کوو او الله تعالی به پکې برکت اچوي، موږ به اخلاص کوو، الله تعالی به له موږ سره خپله مرسته کوي او په دې توګه به د بل چا د غلامی پر ځای د یو آزاد او سرلوړي قوم په توګه ژوند تیروو، نه به ګاونډیان زموږ استقلال ګواښلی شي او نه به هم نور استعماري ځواکونه، ټول به د افغانستان د مسلمان ولس د اتفاق او یووالي په وړاندې په ګونډو وي او هره دسیسه به یې ناکامه او نامراده وي.

اعزامی

پس منظر دستاوردهای کنفرانس کابل

کنفرانس بین المللی کابل در طول سه و نیم دهه بحران کشور ما، نخستین گردهمایی بین المللی بود که در پایتخت افغانستان (کابل) برگزار گردید. کنفرانس کابل ادامه همان سلسله کنفرانس های بین المللی ای بود که پس از توافقات بن در دسامبر ۲۰۰۱، همکاری سازمان ملل متحد به هدف کمک به افغانستان دایر گردید. این گردهمایی به ابتکار و مدیریت دولت افغانستان صورت گرفت و جامعه جهانی به این واقعیت پی برد که در صورت نورمال شدن اوضاع افغانستان، افغانها نیز توان و ظرفیت برگزاری کنفرانس های بین المللی را دارد.

قبل از کنفرانس کابل، جامعه جهانی چنان می پنداشتن که افغان ها فقط این را می دانند که چگونه مهمان شوند، ولی پس از کنفرانس کابل، همگانی این حقیقت را درک کردند که افغانها راه و رسم چگونه میزبان شدن را نیز می دانند و اگر خدا بخواهد که بحران و کشمکش در کشور ما خاتمه یابد و اوضاع بر روال عادی خود برگردد، شاید شایستگی و تردستی افغان ها در برگزاری گردهمایی های بین المللی ازین نوع، نسبت به دیگران به اثبات برسد.

طوریکه از نتایج همایش بین المللی قبل از کنفرانس کابل، در لندن و در جریان جرگه مشورتی صلح برملا گردیده بود، در کنفرانس کابل سه موضوع محوری مورد بحث و مناقشه قرار گرفته و مشترکین همایش روی آن فیصله کردند. اول: پی گیری پروسه گفتگو و مصالحه با مخالفین دولت، دوم: طریق خود کفایی نیروهای امنیتی و سوم: حل معضل اقتصادی. ولی از جریان مباحث کنفرانس و اعلامیهٔ نهایی آن این نکته واضح گردید که دولت افغانستان و مشترکین کنفرانس به موضوع مصالحه، چنانکه در کنفرانس لندن و جرگه مشورتی صلح در محراق توجه بود، چندان علاقه ای نگرفتند و با ابراز سخنان کمرنگ موضعگیری ضعیف در آن باره، اولویت موضوع را تغییر داده و در عوض روی دو موضوع دیگر مسایل امنیتی و اقتصادی تأکید صورت گرفت. در حالیکه موضوع مصالحه با مخالفان طوریکه در کنفرانس لندن مورد توافق جامعه جهانی قرار گرفت، به این خاطر مهم است که تنها در صورت برقراری صلح، تأمین امنیت و پیوستن مخالفین به پروسه صلح است که مشکلات اقتصادی و امنیتی خود بخود فروکش می کند و دولت فرصت آن را می یابد که بجای توجه به جنگ و سرمایه گذاری روی آن، تمام همت و توان خود را صرف انکشاف اقتصادی و بهبود بخشیدن تدابیر امنیتی و دفاعی نماید.

تخصیص ۵۰ فیصد کمک های بین المللی به دولت افغانستان که در کنفرانس کابل مورد تائید جامعه جهانی قرار گرفت، بدون شک یک تحول و انکشاف خوب برای دولت داری خوب و تقویه اقتدار دولت می باشد، ولی همزمان با این تصویب، جامعه جهانی از دولتمردان ما توقع آن را دارد که استعداد و ظرفیت گردانندگان چرخهٔ امور اقتصادی را تا آن حد بالا ببرند که آنها توان مصرف و بکار گیری درست سرمایهٔ مذکور را دریابند. این ادعا بجاست که در کار دونران و مؤسسات خارجی شفافیت وجود ندارد و حتی در موارد بسیاری نمونه های از فساد در عملکرد ایشان محسوس است، ولی اگر به دستگاه دولت عمیقاً نگاه کنیم، این جا نیز کمی ها و کاستی های وجود دارد که جامعه جهانی به زودی باور نمی کند که پول های کمکی آنها بجا و به موقع به مصرف می رسد.



رقابت بین دولت افغانستان و دونران (اعم از دول یا مؤسسات) از همان روزهای نخستین پس از کنفرانس بن جریان دارد، در سال های اول دولت هم به کمبودی های خود معترف بود و لهذا دونران در چگونگی مصرف کردن پول های کمکی دست بالا داشتند، بعدها که ارگان های دولت به مرور زمان با کسب تجربه و تربیه پرسونل کار آتر، بسوی بهبود قدم گذاشت، جامعه جهانی با وارد کردن اتهام فساد و کم کاری، نمی گذارد که پول های کمکی به دولت سپرده شود همین چیزها بود که میان دولت و جامعه جهانی سوء تفاهم ایجاد کرد و یک زمانی این بگو مگو تا آن حد اوج گرفت که دولت افغانستان ادعا کرد که خارجی ها در امور داخلی کشور ما مداخله می کنند.

آماده گی دولت افغانستان برای پذیرش مسؤولیت امنیتی و اعلان خود کفایی درین سکتور تا سال ۲۰۱۴م ظاهراً خبر خوش است و هر افغان منظر فرارسیدن چنان روزی است که اسباب و عوامل ظهور نیروهای خارجی در کشور ما خاتمه یابد و نیروهای امنیتی ما بتوانند بطور مستقلانه تدابیر امنیتی را بگیرند و از تمامیت ارضی و نوامیس ملی و سرحدات کشور دفاع نمایند. ولی از سوی دیگر تشدید جنگ و قوی شدن روز افزون مخالفین بیانگر این حقیقت است که به موازت قوی شدن نیروهای امنیتی ما، قوت جنگی مخالفین نیز بیشتر شده و لهذا تعیین تاریخ برای خود کفایی اردو و پولیس ملی تا حدی سوال برانگیز جلوه می کند. دولت زمانی میتوان برای خود کفایی نیروهای امنیتی ضرب الاجل تعیین کند که در مورد صلح و جنگ با مخالفین به نتیجه نهایی برسد، اگر دولت طی این مدت بتوانند که با مخالفان کنار آمده و روی میکانیزم آشتی ملی و تشکیل دولت واحد به موافقه برسد، در آنصورت نیروهای داخلی حتی می توانند قبل از ۲۰۱۴م مسؤولیت حفظ امنیت را بعهده بگیرد، ولی اگر پروسهٔ مصالحه به بن بست برسد و جنگ جاری ادامه یابد، دشوار به نظر می رسد که نیروهای امنیتی تا سال ۲۰۱۴ توان و ظرفیت خود کفایی را پیدا کنند.

با آنچه که در فوق روی آن اشاره شد، هنوز زود است که ما در مورد نتایج مثبت و منفی کنفرانس کابل فیصله قطعی کنیم، اگر چه امیدواری ها برای بهبود اوضاع به نظر می رسد، ولی واقعیت اینست که مشکلات و ابهامات زیادی هنوز هم در سر راه وجود دارد که برطرف شدن همهٔ آنها متقاضی صبر و کمک سخاوتمندانه جامعه جهانی و همت و ظرفیت بالای دولتمردان افغانستان میباشد.

چیزیکه در این شرایط برای دولت افغانستان زیاد قابل توجه می باشد، این است که حوصله جامعهٔ جهانی کم کم دارد سر می رود و دول عضو ناتو دیگر نمی خواهند که عساکر و سرمایه های شان در افغانستان نابود شده برود، لهذا بر دولتمردان افغانستان است که راه و چارهٔ اساسی دولتداری و دفاع مستقلانه را بسنجند، همچنان چیزی که برای جامعه جهانی قابل توجه است این است که افغان ها با روحیهٔ آزاد منشی ذاتي ای که دارند، حضور خارجی ها را به کشور شان و لو که به نیت خیر آمده باشند، خوش ندارند و نمی خواهند شاهد مداخله اغیار در امور داخلی کشور شان باشند، معهذا برای هر دو طرف لازم است تا با درنظرداشت همین نکته نظرات مهم، عاقبت قضیه را دقیقاً ارزیابی نمایند و در جهت حل و فصل آن تصمیم بگیرند.

عبيدالله

نړۍ څنګه له اټومي وسلو څخه پاکېدلې شي؟

د ملګرو ملتو عمومي منشي بانکي مون په نيويارک کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ د غونډې د پرانستې پر مهال له نړۍ والو څخه غوښتنه وکړه چې له اټومي وسلو څخه د پاکې نړۍ له پاره دې د ملګرو ملتو له اداری سره بشپړه همکاري وکړي.

که څه هم د بانکي مون دغه غوښتنه پر ځای او مهمه ده. مګر پوښتنه داده چې له هغو اووه هېوادونو سره به څه وکړی شي چې پريمانه اټومي وسلې لري او ټوله نړۍ يې له ګواښ سره مخ کړی ده، له اټومي وسلو نه پاکه نړۍ خو هله منځ ته راتلې شي چې په اټومي وسلو سنبال ټول هېوادونه خپل اټومي وسلې له منځه يوسي. دغه مقصد ته د رسيدو لپاره يواځينی لاره داده چې د هر څه دمخه اټومي هېوادونه دېته چمتو کړی شي چې خپل ټول اټومي او نور کيمياوي وسلې پخپله خوښه له منځه يوسي، که داسې نه کيږي نو بيا له اټومي وسلو څخه پاکه نړۍ څنګه منځ ته راتلې شي؟!

هر څوک پوهيږي چې په اټومي وسلو سنبال هېوادونه سرې سترګې ګرځي، نه يې له چانه سترګې سوځيږي او نه هم د کمزورو هېوادو د ويرولو څخه ډډه کوي، په اټومي وسلو سنبال پنځه هېوادونه د نړۍ مستقل باداران دي، د سرو سپينو مالکان هغوی دي، د نړۍ ټولې فيصلې هغوی کوي د ويټو او مسترد کولو حق له هغوی سره دی، لنډه دا چې د څنګل د زمريانو په څير چې څه يې زړه غواړي ترسره کوي، څکه خو د نړۍ نورو هېوادو ته د اټوم بم او اټومي وسلو د جوړولو اجازه نه ورکوي او هر څوک چې د جوړولو او يا هم د ترلاسه کولو کوښښ کوي له ډول ډول پوځي، اقتصادي، تجارتي... تعزيراتو سره مخامخ کيږي. آن چې پر اټومي تاسيساتو يې هوايي بريدونه کوي او له منځه يې وړي.

که ښاغلي بانکي مون له نړۍ والو څخه په سپينو ټکو کې دا غوښتنه کړی وای چې له اتومي خواک څخه محروم هېوادونه دې د اټومي هېوادو باداري پخپل ځان ومني او دهغوی د فرمان مطابق دې خپل ژوند ترسره کړي نو د خبرې اصل مطلب به ښکاره شوې و او د نړۍ د غير اټومي هېوادو وګړي به پوه شوي وو چې بانکي مون اصلاً په اټومي وسلو سنبال هېوادو په فرمايش له نړۍ والو څخه دا غوښتنه کوي چې د اټومي څواک لروونکو بادارانو د غلامي حلقه دې له خپلې غاړې ونه غورځوي او تل لپاره دی دهغوی رحم او کرم ته کيني.

د انساني ټولنې ستر مشکل دا دی چې زياتره وګړي هميشه لپاره د حقايقو د منلو او ملامت لوري ته د ملامت ويلو څخه ډډه کوي، حقه خبره دا وه چې ښاغلې بانکي مون په سپينو او ځرګندو ټکو کې په اټومي وسلو مجهزو پنځو مستقلو بادارو هېوادو مشرانو ته ويلي وای چې ترڅو مو خپلې اټومي وسلې له منځه نه وي وړي له اټومي وسلو نه پاکه نړۍ منځ ته نشي راتلې.

د اټومي وسلو له خطر او ستر تباهی څخه پخپله په اټومي وسلو سنبال هېوادونه ښه خبر دي، مګر هغوی دمنځه وړلو پر ځای يې نور هم وده ورکوي که بل څوک د اټوم او کيمياوي وسلو د جوړولو فکر کوي نو د صدام په څير يې د مرګ کومې ته ليږي، هېواد يې په کنډوالو بدلوي او اوسيدونکی يې له خاورو سره خاورې کوي.

که اټوم بم واقعاً خراب څيز دی او د اشرف المخلوقات ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي نو بيا دوی په کوم امتياز ددې د جوړولو او ذخيره کولو حق ترلاسه کړې دی؟ که چېرته دوی ته د اټومي وسلو جوړول او کارول جائز وي نو بيا نورو له پاره ولې ناروا دی؟! په اټومي وسلو سنبال هر يو هېواد دومره اټوم بمونه لري چې په يواځې ځان نړۍ څو ځلې ورانولې شي آيا ددوی دا عمل د زغملو دي؟ آيا نړۍ ددوی د اټومي حملې له ګواښونو څخه محفوظه ده؟ نه هرګز نه، هر څوک په دې ويريږي چې هسې نه يوه ورځ دهغوی هېواد هم د ناګاساکی او هيروشما په سرنوشت اخته شي.

د اټومي وسلو څخه د پاکې نړۍ درامنځته کولو لومړنی مسؤوليت د اټوم لروونکو هېوادو دی چې په بشپړ اخلاص او صداقت د عمل ميدان ته ودانګي، خپل ټول اټوم بمونه يوه يوه له منځه يوسي، بيا دې په نورو هم فشار واچوي چې د اټوم بم د جوړولو هلې ځلې ونه کړي، که داسې نه کيږي نو له اټومي وسلو څخه د پاکې نړۍ ارمان به کله هم پوره نه شي او هغه ورځ به کله هم نه راځي چې نړيوال د اټومي وسلو له ګواښ څخه په امان شي. هر هېواد چې د اټوم بم د جوړولو استعداد او څواک پيدا کړي هغه به ضرور جوړوي او په دې ترتيب ټوله نړۍ به د اټومي وسلو په انبار بدله شي او بالاخر ټول انسانيت به پخپل لاس د هلاکت کندی ته غورځيږي.

افغانستان د نړۍ والو رسنيو په هنداره کې

واشنګټن پوسټ:

واشنګټن پوسټ ورځپاڼه د باب ووډ وارډ، د بارک اوباما د جګړو د کتاب په اړه ليکي، د باب ووډ وارډ دې کتاب چې په وروستيو کې بازار ته راوتلی، د سپينې ماڼۍ د چارواکو په شمول يې د امريکايي سياست والو پاملرنه ځانته جلب کړې ده.

ورځپاڼه ليکي، باب ووډ وارډ په دې کتاب کې په دې اړه، چې يو نوی ولسمشر لکه د مخکينيو ولسمشرانو په څير په څه ډول په يوې جګړې کې ښکيل کيږي، چې د ولسمشرۍ دوره يې لکه د مخکينو هغو په څير له خطر سره مخامخ کيږي، ليکي، مخکينی ولسمشر جورج بوش د عراق د بې مورده جګړې په پيليدو سره خپله د جمهوری رياست دوره له خطر سره مخامخ کړه او له هغې مخکې د امريکا دوو پخوانيو ولسمشرانو ريچارډ نيکسون اولنډن جانسون هم د ويتنام د جګړې په خاطر خپلې دوری له خطر سره مخامخ کړې وې.

واشنګټن پوسټ ليکي، د ښاغلي ووډ وارډ په وينا داسې ښکاري، چې بارک اوباما د جمهوري رياست د پيل په لومړيو مياشتو کې له حالاتو ناخبره د افغانستان په جګړه کې ځان ښکيل کړ او مخکې له دې چې په دې اړه دقيقه څيړنه وکړي، دې هيواد ته يې د يويشت زره نوروسرتيرو د ليږلو پريکړه وکړه.

سنډې ټيليګراف:

بريتانوي سنډې ټيليګراف اونيزې د افغانستان په اړه د اوباما د جګړو د کتاب له ليکوال باب ووډ وارډ سره د مرکې په اساس په يوه مطلب کې ليکي: که د افغانستان د جګړې په اړه د يوه ليکوال نظريات مهم بلل کيږي، هغه به باب ووډ وارډ وي.

باب ووډ وارډ چې د واټرګيټ په رسوايي کې يې د يوه خبريال او ليکوال په توګه شهرت ګټلی، په دې اړه له دوو کلونو څيړنې وروسته بيا راڅرګند شوی.

هغه د سلو په شاوخوا له امريکايي پخوانيو او اوسنيو چارواکو، د سپينې ماڼۍ له مهمو لوبغاړو او په خپله له ولسمشر سره څو وارې مرکې کړې دي.

سنډې ټيليګراف ليکي، دغه کتاب چې د باب ووډ وارډ د دې څيړنې محصول دی، بازار ته له وتلو سره سم ترټولو زيات پلورل شوی کتاب دی، چې د مطبوعاتو توده موضوع هم ګرځيدلې ده.

د اوونيزې په باور دا په دې خاطر چې په دې کتاب کې د اوباما په اداري کې د مختلفو پاليسو پرسر د دعوا او اختلافاتو يادونه شوې ده.

باب ووډ وارډ له سنډې ټيلګراف سره په مرکه کې ويلي، چې دا د ده ۱۶ کتاب دی، چې په کې په صادقانه ډول د بې طرفۍ اصل رعايت شوی او له قضاوتونو څخه په کلکه ډډه شوې ده. هغه بازار ته د خپل کتاب له خپريدو وروسته له ډيلي ټيليګراف سره په خپله لومړنی مرکه کې ويلي، چې دی په بې پرې څيړنې باور لري، چې دا د ژورناليزم آساسي اصل دی.

خو د سنډې ټيليګراف په وينا هغه چې تل به يې د مسايلو په اړه له نظر ورکولو ډډه کوله، اوس دې ته تيار دی، چې په ډاګه د مسايلو په اړه بحث وکړي، حتی دا پوښتنه يې هم مطرح کړې چې ايا ولسمشر بارک اوباما د دې توانايي او جرات لري، چې د جګړی په حالت کې د خپل هېواد مشري وکړي.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

پخوانی مذهب: کيتولک عيسوي

اسلامي نوم: محمد ويلفريد - د هېواد نوم: فلپاين

نوې مسلمان شوې محمد ويلفريد وايي:

مسلمانان څوک په زوره اسلام راوړلو ته نه اړباسي

زه عيسوي وم زما په ذهن کې کله هم د مسلمانېدو احساس نه و پيدا شوې ما او زما ښځې دواړو په ګډه د خوښۍ په فضاء کې ژوند کاو، يوه ورځ داسې راغله چې زما ښځه نو کرۍ لپاره خليج ته لاړه او هلته يې په کار پيل وکړه. زه له خپلو اولادو سره يو ځای په فلپاين کې اوسيدم. څو کاله وروسته مې د خپلې ښځې په ډېرو حرکاتو کې بدلون وليد مثلاً په کارونو کې احتياط او د غوره اخلاقو پابندي کول، څه موده وروسته راته معلوم شو چې هغې خپل دين پرېښې او مسلمانه شوې ده، هغې ماته د اسلام د منلو په اړه وويل: کله ما د مسلمانانو ژوند وليد نو زه ترينه ډېره زياته متاثره شوم، د اسلام ددين مطالعه مې چې شروع کړ نو په هغه کې دومره معقوليت او کشش و چې ما د چا جبر او فشار پرته پخپله خوښه اسلام ومانه او مسلمانه شوم. په پيل کې زما ښځې يواځې پخپلې مسلمانۍ اکتفا وکړه او له ماسره يې هيڅ غرض ونه کړ، هغې به صرف ماته دومره ويل چې په اديانو کې يواځينی حق دين اسلام دی، زه غواړم چې ته هم دغه سپېڅلی حق دين ومنې او مسلمان شې. هغې به ماته ويل چې ته بايد د کفر تياره پرېږدی او د اسلام رڼا ته راشې.

هغې د اسلام له قبلولو نه وروسته له ماسره د يو ځای کېدو او جنسي اړيکو څخه ډډه وکړه هغې ماته له دوه لارو نه د يوې لارې د غوره کولو اختيار راکړ او راته يې وويل: يا به اسلام منې او له ماسره به يو ځای د خاوند په توګه ژوند تېروې او يا به راته طلاق راکوې څکه چې يوه مسلمانه ښځه نشي کولې له کافر سړي سره د ښځې په صفت پاتې شي. زما او دهغې ترمنځ دولس کاله همداسې تېر شول، په خليج کې چې دهغې د نو کرۍ موده پای ته ورسېده او بېرته خپل کور ته راغله نو زه سعودي عرب ته د نوکرۍ له پاره لاړم، زه يو کيتولک عيسوي وم او د تعصب له کبله مې نه غوښت چې خپل دين پرېږدم او مسلمان شم. ليکن د الله تعالی له لورې پر ما د هدايت لاره خلاصه شوه، د اسلام د مقدس دين په حقانيت پوه شوم او بالاخر زما ضد او تعصب د حق په وړاندې خپله وسله وغورځوله.

زما ښځې به د تيلفون له لارې له ماسره اړيکې نيولې، هغې به راته هر وخت همدا يوه خبره کوله چې مسلمان شم، او دا غوښتنه يې هم کوله چې زه هلته د اسلام دين مطالعه کړم، هغې به راته ويل: زه ستا د مسلمانېدو په انتظار يم، کاش چې ته مسلمان شې او زموږ ترمنځ د طلاق نوبت رانه شي، هغې به راته ويل: زما ارمان دا دی چې ته پخپله خوښه د چا د فشار پرته اسلام ته غاړه کېږدی او د اسلام په دين مشرف شی، هغې به هر وخت د عظيم آيت ((لا اکراه فی الدين)) تلاوت کاوه، ما دغه آيت دهغې د خولې دومره ډېر اوريدلې وه چې ماته په يادو ياد شوې و او پر معنی يې هم پوهيدم. لدينه مخکې ما هم د نورو عيسويانو په څير ګمان کاو چې مسلمانان په زوره خلک مسلمانوي.

ما په سعودي عرب کې د اسلام ددين مطالعه شروع کړه ددوه کلو اوږدې مطالعې او ژور غور فکر نه وروسته دې نتيجې ته ورسيدلم چې د اسلام دين واقعاً حق دين دی ددې په خپلولو او منلو سره انسانيت له هر ډول ګمراهي او بدبختي څخه خلاصون مومي. د تيلفون له لارې مې له خپلې ښځې سره وعده وکړه چې ډېر ژر به د اسلام دين ومنم او ستا څنګ ته به ځان ورسوم.

د محمد ويلفريد آواز په دغه وخت کې ژړغونې شوه او له سترګو نه يې اوښکې روانې شوی، هغه وويل ډېر افسوس چې زما د مسلمانېدو نه وړاندې زما ښځه له دې پاتې دنيا نه رحلت وکړ او زما د مسلمانېدو زيرې يې وانه وريده.

هغه زما د مسلمانېدو نه دوه مياشتې مخکې د شکر او نفس تنګي په ناروغی اخته شوې وه، کله چې ما اسلام ومانه او خپلې ښځې ته مې د اسلام د منلو د زيری اورولو اراده وکړه نو په دغه وخت کې ماته د هغې د مړ کيدو خبر راورسيد، زه ډېر خفه شوم چې لږ تر لږه ما هغې ته د هغې په ژوند کې زما د مسلمانيدو ارمان پوره نکړه او هغه زما د مسلمانېدو په ارمان له دنيا نه رخصت شوه، هغې زما د مسلمانيدو لپاره دولس کاله انتظار کړی وه خو ډېر افسوس چې له هغې سره ژوند وفا ونکړ او زما د مسلمانېدو خوښي يې ونه ليد.

زما د ښځې لوی ارمان و چې دواړه د اسلام د سپېڅلی دين په رڼا کې صفا ستره ژوند تير کړو خو لوی الله هغه ته نور ژوند ورنکړ. او له دنيا نه يې اوچته کړه. (انا لله وانا اليه راجعون)

شهادت اوونيزه

خپرووونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتياز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدير: عبدالله کامه وال

مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)

داړيکي شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ډيزاين: خواجه وحيدالله

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

واشنگتن‌پست: امریکا برای مقابله با تبلیغات سیاسی طالبان تلاش می کند

خبر گزاري فارس:
يک روزنامه امريکايي در مقاله اي تاکيد کرد طالبان در ماه‌هاي اخير از تاکتيک هاي سياسي-تبليغاتي پيچيده و ظريفي استفاده کرده است و مقامات امريکا در خصوص تلاش براي مقابله با اين اقدامات طالبان هشدار داده‌اند.

به گزارش فارس به نقل از روزنامه امريکايي "واشنگتن‌پست "، مقامات آمريکايي و تحليلگران مسايل افغانستان بر اين باورند که طالبان در ترسيم غرب به عنوان بلوک در آستانه شکست ماهرانه عمل کرده است و از شکاف‌هاي ميان واشنگتن و کابل بهره جسته و از دولت "حامد کرزي "رئيس جمهوري افغانسان به عنوان دولتي "دست نشانده "که دسترسي اندکي در خارج از پايتخت دارد، بشدت انتقاد کرده است.

به نوشته واشنگتن‌پست طالبان همچنين در تلاش براي اطمينان دادن مردم افغانستان در اين زمينه است که مجددا راهبردي براي اداره اين کشور دارد و در اين راستا در حال ارائه برنامه ريشه کني فساد و حتي حمايت از حقوق زنان است.

اين روزنامه امريکايي در ادامه نوشت: به موازات آنکه طالبان تلاش‌هاي تبليغاتي-سياسي براي توده مردم را افزايش بخشيده و حضور کنوني خود را به فيس بوک و توئيتر نيز رسانده است، ائتلاف به رهبري امريکا خود را در اين جنگ رسانه اي در حالت تدافعي مي‌بيند.

بر همين اساس يک مقام اطلاعاتي آمريکا در کابل درباره راهبرد رسانه اي طالبان گفت: اين راهبرد بسيار بهتر شده است و در حال پيچيده‌تر شدن است. اين راهبرد رسانه‌اي قطعا چيزي است که ما نگران آن هستيم.

به گزارش واشنگن‌پست، ناتو اقدامات خود براي مقابله با دلارهاي فراوان طالبان را افزايش داده و در اين راستا برخي پيام هاي رسانه‌اي خود را به دري و پشتو ترجمه مي کند و حملات طالبان که منجر به کشته شدن و آسيب غيرنظاميان افغانستان مي‌شود، محکوم کرده است.

بر همين اساس "ديويد پترائوس "فرماند نيروهاي آمريکا و ناتو در افغانستان اول آگوست خطاب به نيروهاي خود از آنان خواست تا "بشدت با جنگ اطلاعاتي مبارزه کنند ".

مجوز فعالیت یک شرکت امنیتی ...

اصلی اين نا‌امنی‌ها خوانده و گفت: اين شرکت‌ها روزها با ما هستند و شبانه دست به دزدی و نا‌امنی می‌زنند.

بيش از ۵۰ شرکت خصوصی داخلی و خارجی در افغانستان مشغول فعاليت می‌باشد. کرزی چهار ماه به اين شرکت ها مهلت داد تا سلاح‌هاي خود را به دولت افغانستان تحويل دهند.

شرکت امنيتي خصوصي بلک واتر در سال ۱۹۹۸ توسط برخي از اعضاي سابق نيروي دريايي امريکا راه‌اندازي شد. اين شرکت در مجموعه آموزشی خود در کاروليناي شمالی، از امکانات گسترده ای برای آموزش نيروها برخوردار است که از آن جمله می توان به ميدان هاي تير سيار گسترده براي شليک سلاح‌هاي قدرتمند و نيمه سنگين، ساختمان‌هاي شبيه‌سازي شده براي تمرين عمليات نجات گروگان و سنگرهاي متعدد اشاره کرد.

جنايات اين شرکت مانند ترور، سوءاستفاده جنسي از دختران نابالغ عراقي و... بارها و بارها از سوي رسانه‌ها اعلام شد و در فوريه سال ۲۰۰۹ براي مخفي نگه داشتن هويت واقعي خود به علت خرابکاري‌هاي مکرر در عراق و افغانستان به شرکت XEتغيير نام داد.

پنج تن از ماموران اين شرکت امنيتي در سال ۲۰۰۷ ميلادي در شهر بغداد جمعي از عيرنظاميان عراقي را هدف سلاح هاي خويش قرار دادند که در نتيجه آن، ۱۷ تن از عراقي‌ها کشته شدند. اين کار واکنش شديد دولت عراق را در پي داشت.

گرچه پنتاگون و برخي از سفارتخانه هاي خارجي مستقر در کابل با اين تصميم حامد کرزي مخالفت کرده‌اند اما صاحب نظران سياسي معتقدند که اين شرکت ها در ناامني‌ها و کشتار سران اقوام افغانستان نقش داشته و فعاليت آنان مشکوک است.

بسياري از کارشناسان امور افغانستان بر اين نظرند که به دليل فقدان مکانيسم نظارت بر نحوه فعاليت شرکت‌هاي امنيتي خصوصي خارجي در اين کشور، اعضاي اين شرکت ها دست به برخي اقدامات خودسرانه نظير، آدم‌ربايي، ايجاد زندان‌هاي مخفي، سرقت‌هاي مسلحانه و قاچاق مواد مخدر را انجام مي دهند.

رئيس جمهور حامد کرزی ناتو را ...

که نيروهای استرليا مستقر می باشند، يک سلسله تحولات مثبت در زندگی مردم رخ داده اند.

از سال ۲۰۰۲، زمانيکه استرليا به مساعی نيروهای بين المللی مساعدت به امنيت در افغانستان(ISAF) پيوسته، در جمهوری اسلامی افغانستان ۲۱ نظامی استرليا کشته شده اند. در افغانستان مجموعاً به تعداد ۱۵۵۵ سرباز و افسر استرليا مستقر می باشند.

د انتخاباتو کميسون له رسنيو ...

رمضان بشردوست زياتې رايې خپلې کړې دي خو لا هم د راى شمېرنې بهير دوام لري او کېداى شي د زياتو راى ګټونکو په ترتيب کې بدلون راشي.

له بلې خوا د خوست ولايت امنيتي مسوولين وايي چې د دغه ولايت د انتخاباتو د کميسيون د دفتر مسوول تيره شپه د پوليسو له خوا نيول شوى دى.

د افغانستان د کورنيو چارو وزارت وياند زمرى بشري د دغه خبر په منلو سره وايي چې شاهزاده حسن د انتخاباتو د خپلواک کميسيون د غوښتنې په اساس نيول شوى دى.

د انتخاباتو د خپلواک کميسيون ريس فضل احمد معنوي تيره ورخ يوې خبري غونډې ته وويل چې د انتخاباتو د يو ولايتى دفتر د مسوول د نيونې امر ور کړل شوى دى.

د نوموړي په وينا دغه مسوول په انتخاباتو کې په درغليو تورن دى.

القاعده شبکې زموږ په ځينو ...

د امريکا داستخباراتو د مرکزي ادارې يا CIAيوه متقاعد مامور ارتورو مونوز فرانسپرس خبري اژانس ته ويلي، ټول شواهد ښيي چې دا خطر ورځ په ورځ زياتېږي او په دې کې هېڅ شک نشته.

په هغه راپور کې چې د جمعې په ورځ د جورج واشنګټن پوهنتون د امريکايي او سويډني څېړونکو له خوا خپور شو، خبرداری ورکړل شوی چې د لويديځ استخباراتي اداري ښايي د يوه ډېر ستر ګواښ د يوازې يوې ورې برخې په اړه معلومات ولري. د دوي په وينا دا هغه ستر ګواښ دی چې پته يې تر اوسه نه ده لګول شوې.

هغه کسان چې تروريستان يې د بريدو لپاره غوره کوي کولای شي د جعلي پاسپورټونو په وسيله، پرته له دې چې د امنيتي چارواکو ورته پام شي په ارامی سره هرچېرته چې وغواړي سفر وکړي څکه په دې جعلي پاسپورټونو کې د دوي جنايي سوابق پاک دي.

د جورج واشنګټن پوهنتون د ملي امنيت د پاليسي د انسټيټوټ راپور زياتوي، دا تروريستان د بريدو لپاره له ټاکل شوېو اهدافو سره بشپړه بلدتيا لري او همدا دوي ته د زيان رسولو توان ورکوي.

د اروپايي هېوادونو استخباراتي چارواکو تېره اونۍ وويل چې، القاعده شبکې په لندن او د فرانسې او جرمنۍ په ځينو ښارونو کې د همزمانه بريدو پلان جوړ کړی.

په دې اړه معلومات له هغه جرمن ځوان څخه ترلاسه شوي دي چې اوس په افغانستان کې د بګرام په زندان کې په بند کې دی. د جرمني د هامبورګ ښار استوګن دي ځوان احمدصديقي چې وايي، د ازبکستان د اسلامي غورځنګ غړی دی، امريکايي مستنطقانو ته ويلي دي چې يو شمېر هغه کسان چې په اروپا کې د تروريستي بريدو لپاره غوره شوي، ښايي لا د مخه په اروپا کې وي.

د سويډن د ملي دفاعي انسټيټوټ څېړونکی مګنوس رنستورپ چې د امريکايي او سويډني څېړونکو د راپور د ليکوالانو له ډلې څخه دی وايي، يو هغه هېواد چې له دې اړخه سخته اندېښنه لري جرمني دی.

د جرمني د اساسي قانون د دفاع فدرال اداره وايي چې اوس مهال نږدې دوه سوه جرمني اتباع او يا په دې هېواد کې استوګن بهرنيان، داسې کسان دي چې د افراطي ډلو له لوري د روزنې د ترلاسه کولو په مقصد يې په پاکستان کې وخت تېر کړي.

د دې ادارې په وينا د ۶۵ تنو په اړه موثق اسناد شته چې د روزنې په دې پروګرامونو کې يې برخه اخيستې ده. رنستورپ وايي چې په ډنمارک کې هم جدي امنيتي ګواښ شته او په لويديځ کې دېره بهرني جنګيالي پر هغې ډنمارکی ورځپاڼې چې څو کاله مخکې يې د اسلام د پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم کارټونونه خپاره کړل د حملې نيت لري.

د رنستورپ په وينا ان سويډن هم له تروريستي حملو څخه خوندي نه دی، لنډه دا چې په ټوله اروپا کې د دې حملو خطر شته.

د امريکايي او سويډني څېړونکو راپور زياتوي، که څه هم پاکستان لاهم د تروريستانو د روزنې اصلي مرکز ګڼل کېږي خو امريکايي او بريتانوي چارواکي له دې هم اندېښنه لري چې په لويديځ کې دېره تروريستان سوماليا ته روان دي او په هغه هېواد کې له دېره افراطي ډلو سره د اړيکو د جوړولو هڅه کوي.

ښاغلی رنستورپ وايي، د دې سخت درېځو د موندلو او نيولو لپاره د معلوماتو پر شريکولو سربېره د لويديځ استخباراتي ادارو ته په کار دي څو هغه مهم تندلاري ملايان چې ځوانانو ته په تبليغاتو او موعظو کې هغوي له تروريستانو سره يوځای کېدو ته هڅوي وڅپي.

رنستورپ او د ده بل همکار جيفري کوزينس وايي، د دې لپاره چې د سخت درېځو په ليکو کې د ځوانانو د استخدام مخنيوي وشي پوليس او حکومتي چارواکي بايد په اروپا کې د مېشتو سوماليايانو او نورو بهرنيانو له کورنيو سره تماسونه ټينګ کړي څکه چې يوازې کورنۍ کولای شي په دې برخه کې مرسته وکړي.

طالبانو د افغان ملي پوځ په ليکو ...

د وزارت وياند جنرال ظاهر عظيمي رسنيو ته ووېل چې په تېرو نهو کلونو کې يوه يا دوه پېښې د دې مانا نه لري چې ګواکې طالبانو دې د ملي اردو په ليکو کې نفوذ کړی وي:

"د ملي اردو له جوړېدو نهه کاله تېرېږي، په دې نهو کلونو کې داسې کومه لويه پېښه نه ده شوې چې د اردو په ليکو کې د دښمن نفوذ وښيي . يو يا دوه ځله چې سرتېرو په بهرنيو ځواکونو بريدونه کړي، دا ډول پېښې په امريکا کې هم کېږي او تاسو شاهد ياست چې په امريکا کې يوه افسر په خپلو ملګرو بريد وکړ.

په تېره جنوری مياشت کې وسله والو طالبانو ويلي وو چې يو تن يې افغان ځواکونو ته ورننوتی، و چې لږترلږه د امريکا د مرکزي څارګرۍ ادارې "سي آی اې "اووه غړي يې ووژل.

دا د دې مانا نه لري چې دښمن زموږ په ليکو کې نفوذ کړی، موږ په بشپړ ډول دا ردوو."

اوباما وايي د افغانستان په ...

کانګريس د افغانستان او پاکستان په باب بحثونو ته دوام ورکوي، زه غواړم د دې پاليسی د تطبيق په برياليتوب کې د خپل ملت په ګټو ټينګار وکړم."

اوباما يادونه کړې چې په دې لړ کې يوازينی لوی بدلون په وروستيو کې په افغانستان کې د ناټو او امريکايي پوځيانو د عمومي قومندان په توګه د جنرال ډيويډ پيترايس ټاکنه وه، چې د عراق د حالاتو د بدلولو وياړ لري.

ولسمشر اوباما د تېر کال په دسمبر کې امر وکړ چې افغانستان ته دې دېرش زره نور پوځيان واستول شي خو ورسره يې دا هم وويل چې د ۲۰۱۱ کال له جولای څخه به له دې هېواده د امريکايي پوځيانو وتل هم پيل کړي. د ده له نوې ستراتيژۍ سره سم د افغان امنيتي ځواکونو روزنې ته پام زيات شوی څوپه تدريجي ډول له نړيوالو ځواکونو څخه د افغانستان د امنيتي چارو مسووليت په غاړه واخلي.

د ناټو او امريکا چارواکي تر فشا[illegible] لا[illegible]ي دي چې په افغانستان کې د و[illegible] له طالبانو پرضد په جګړه کې، په ت[illegible] بيا مخکې ترديږ پرمختګ ونښيي [illegible]ې په دسمبر کې د افغانستان پر ستراتيژۍ مفصله او هراړخيزه بيا کتنه کېږي.

د افغانستان د جګړې د ستراتيژۍ په باب د اوباما ليک څه کم دوې اونۍ وروسته له دې خپرېږي چې د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې مشهور ژورناليست باب ووډوارډ په يوه کتاب کې د افغانستان د ستراتيژۍ پرسر د امريکايي چارواکو ترمنځ د ژورو اختلافاتو ادعا وکړه.نوموړي په خپل کتاب کې ويلي وو چې تېر کال د افغانستان د ستراتيژۍ د جوړولو پر سر د اوباما د ملي امنيت په ډله کې پر دې موضوع تونده بحثونه وشول خو سپينې مانۍ دا موضوع بې اهميته وبلله او ويې ويل چې دې کتاب په مجموع کې ولسمشراوباما قاطع او ژور شخصيت معرفي کړی دی.

په دې پاليسی کې پر دې ټينګار شوی چې وسله وال طالبان د افغانستان د جنوب له / ګڼ نفوسو/سيمو وايستل شي او د افغان امنيتي ځواکونو د روزنې کار چټک شي څو له راتلونکي کاله چې امريکايي پوځيان له افغانستانه وتل پيلوي ، دوی ته په تدريجي ډول د خپل هيواد امنيتي چارې وسپارل شي.

د سياسي چارو ځينې کتونکي فکر کوي چې د اوباما دا څرګندونې چې د افغانستان لپاره په جوړه شوې ستراتيژۍ کې لوی بدلون نه راولي، کېدای شي د افغانستان د دولت د وسله والو مخالفانوهغه هيلې په نهيلی بدلې کړي چې د افغانستان په باب يې د امريکا د پاليسی بدلون ته لرلې.

حقجو وايي، پاکستان افغان سوداګرو ته ستونزې زېږوي

کابل رسنۍ:
د افغان سوداګرو په وينا ، پاکستان په خپله خاوره کې د افغانستان د سوداګريزو توکو په ترانزيت کې ځينې محدوديتونه وضع کړي، چې له امله يې د هېواد په بازارونو کې بيې لوړې شوي دي.

د سوداګرۍ خونې ريس قربان حقجو، د سې شنبې په ورځ په يوه خبري کنفرانس کې د دغې ستونزې د هوارې لپاره افغان دولت ته يو لړ وړانديزونه وکړل:

(موږ د دغه ستونزې د هوارې لپاره پنځه وړاندېزونه مطرح کړل، لومړی دا، چې پاکستان ته دې يو لوړ پوړی دولتي پلاوی، چې په راس کې يې د سوداګرۍ او صنايعو وزير وي، واستول شي او ژر تر ژره دې د دغه ستونزې د هوارې لپاره له پاکستاني چارواکو سره په مستقيمه توګه د دغې مسلې په اړه خبرې وکړي او د حل يوه لاره ورته پيدا کړي.)

د سوداګرۍ د خونې په وړاندېزونو کې افغان دولت ته دا سپاربښتنه هم شوې، چې له پاکستان سره د سوداګرۍ تفاهم ليک نهايي کړي.

په همدې حال کې افغان سوداګر وايي، چې که مسول چارواکي د دوي ستونزو ته پاملرنه ونه کړي، نو دوي به په افغانستان کې له پانګونې لاس واخلي او خپل فعاليتونه به ودروي.

د افغان سوداګرو په وينا د پاکستان له خوا د جريمو او ګمرکي ټکسونو ډېروالی به د افغانستان په مارکېټونو کې بيې لوړې کړي.

د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د سوداګرۍ مرستيال غلام محمدييلاقي، چې د سوداګرۍ او صنايعو د خونې په کنفرانس کې يې ګډون درلود ووېل، چې د افغان سوداګرو د ستونزو د هوارې لپاره يې څو ځلې له پاکستاني چارواکو سره خبرې کړي، خو پاکستان دغه مسايل رد کړي دي.

ښاغلي ييلاقي ووېل، چې افغان دولت د ځينو سياسي نزاکتونو له امله يې په جدي توګه دغه مسله نه ده مطرح کړې، خو هڅه کوي، چې د خبرو اترو له لارې پاکستان قانع کړي، چې د سوداګريزو توکو په لېږد کې وضع شوي خنډونه لرې کړي:

(د سوداګرۍ او صنايعو له وزير سره مو خبرې وکړې، د دوي نظر دا وو، چې موږ دغه مسله بايد په جدي توګه د بهرنيو چارو وزارت له خوا له پاکستاني چارو کو سره وڅېړو.

د نړيوالې سوداګرۍ رياست او زموږ د ترانزيت رياست دنده واخيسته، چې دغه موضوع په جدي توګه مطرح کړي. هغه وړانديزونه، چې د سوداګرۍ او صنايعو خونې له خوا شوي موږ يې د حل لاره بولو.)

د پاکستان د کراچۍ بندر د افغانستان د سوداګريزو توکو د لېږد اصلي لار ده، خو د افغان سوداګرو په وينا په دې وروستيو کې د سوداګريزو توکو په لېږد کې يو لړ جدي ستونزې راولاړې شوي دي،حال دا، چې د پاکستاني سوداګر پرته له کومې ستونزې خپل مالونه د افغانستان له لارې منځنۍ [illegible]سيا ته لېږدوي.